# د زیتون بانو په افسانوي مجموعه" ژوندي غمونه"
# کښې د پښتو محاورې تجزیه
# An Analysis of Pashto Idioms in Zaytoon Bano's Legendary Collection (Jwandi Ghamuna)

**Paghunda Mukhtyar**★
**Rizwana**★★

**Abstract:**

Idiom plays a vital role in the creation of any language. . Idioms help the orators as well as listeners to understand the meaning and definition of a phrase, expression. Using of idioms in day today conversation is not only good for the orators but also for the listeners. When writers use idioms in their writings, they are equipped with easiness, open- mindedness, broadness and briefness.  The listener also needs to know and understand the idioms so that to understand the essentials and fundamentals of writing. All the languages spoken around the world has significant role in understanding the theme of a language.  Idioms are essential part of these languages. Idioms used can frequently be found in Pashto language. In this paper an analytical review of the Fictions collection (*Jwandi Ghamona*) of Zaitoon Banu will be highlighted. Similarly a critical, analytical and meaningful description of the idioms used by Zaitoon Banu in her fictions will be conferred at length.

د ژبې په جوړښت کښې د محاورې استعمال په خپل ځاے یوه مهمه برخه لري ۔ د ژبپوهانو د وېنا تر مخه د محاورې نه بغېر ویونکے یا لیکونکے په اسانه خپل مفهوم نۀ شي وړاندې کولے او هم دغسې اورېدونکے یا لوستونکے هم د محاورې نه بغېر په لنډو ټکو کښې او په اسانه مفهوم ته نه شي رسېدے ۔ د محاورې د تعریف په لړ کښې په ظفر اللغات کښې لیکي چې :

" وہ کلمہ یاکلام جیسے اہل زبان کے لغوی معنٰی کی مناسبت یاغیر مناسبت سے کسی خاص مفہوم کے لئے مخصوص کرلیاہو[1]۔ "

هم په دې لړ کښې غلام دستګیر لیکي :

" وہ روزمرہ بول چال جیسے تمام اہل زبان اصلی معنٰی کے علاوہ کسی اور معنٰی میں استعمال کرتے ہوں

★ Senior Investigative Research officer Pashto Academy UOP
★★ Ph.D Scholar  Pashto Academy UOP

اوراس میں ایک فعل بھی ہو جیسے پہاڑ ٹوٹ گیا وغیرہ[2] ''

د ظفر اللغات او غلام دستګیر د وېنا په رڼا کښې که اوکتے شي نو د محاورې پېژندلو اسانېږي وړومبے خو دا چې د محاورې تل ته اهل زبان رسېدلے شي او دوېمه خبره دا ده چې د محاورې الفاظ په لغوي معنو کښې نه استعمالېږي بلکې په خصوصي معنو کښې ددې استعمال کولے شي ۔
د غلام دستګیر د وېنا په اخري برخه کښې چې کومه خبره شوې ده چې په محاوره کښې به فعل هم وي نو دا خبره هم د محاورې د مطالعې نه ثابته (جوته) ده ۔

## په ژبه کښې د محاورې اهمیت:

په ژبه کښې د محاورې د اهمیت او استعمال په لړ کښې عبدالله جان عابد لیکي :

'' انسان جو کچھ سوچتا ہے اور جو خیالات اور تصورات اُس کی فکر کی راعنائیوں کے عکاس ہوتے ہیں۔ وہ لفظوں کی صورت میں ڈھل کر پیکر تراشی کا وہ قرینہ استوار کرتے ہیں جس کی وجہ سے اُن کا تخیلاتی تصور لفظوں کی صورت میں ڈھل کر معانی کی ایسی دنیا آباد کرتا ہے جو فکر اور فرہند کے قرینوں کو نئ تعبیریں عطا کرتا ہے۔

مثال کے طور پر

"د اسمان نه ستورې راکوزول"

(ترجمہ: آسمان سے تارے توڑ کر لانا)

ایک ایسا محاورہ ہے جو انسان کی نارسائی کی داستان کو عیاں کرتا ہے کہ آسمان انسانی دسترس سے باہر کی چیز ہے۔[3] ''

هم په دغه لړ کښې پروفیسر ډاکټر محمد امین لیکلي دي :

'' یہ زبان کے حسن کو دوبالا کرتا ہے۔ اور زبان کی چاشنی کو بڑھاتا ہے۔ محاورہ زبان کا فنی حسن ہے جو اسلوب میں حسن پیدا کرتا ہے۔ طویل بات کو بامعنٰی اختصار دیتا ہے۔[4] ''

د دنیا د نورو ژبو غوندې د پښتو ژبې هم خپلې محاورې دي او لکه څنګه چې د نورو ژبو په محاورو کښې د هغه قامونو دوددستور تهذیب و تمدن ، تاریخ ، روایات ، کلتور او رنګونه څرګندېږي ۔ دغسې د پښتو محاورې هم زمونږ د پښتنې کلتور او مزاج سره سمې زمونږ په ژبه کښې موجود دي ۔ د پښتو محاورې مزاج هم د پښتو مزاج سره سم دے او دا خبره په ګوته کوي چې پښتو ژبه او پښتون قام صرف د ژبې او قام تړون نه لري بلکې د پښتونولۍ په نوم د یو لوے تهذیب او دستور موجودګي په ګوته کوي لکه دا څو محاورې :

- پښتو کول
- پښتو پرېښودل

- پښتو ته کښېناستل
- په پښتو نه پوهېدل وغېره

''جب ہم پشتو محاورے پر غور کرتے ہیں تو اس کی جو اہم اور نمایاں حیثیت ہمارے سامنے آجاتی ہے وہ تہذیب ہے۔ مختلف حالات، واقعات، جغرافیائی اور تاریخی حوالے، رسم و رواج، اخلاقی اور مذہبی اقدار، اوہام اور اساطیری رویے، محاورے کے اندر اس طرح سے اپنے آپ کو ملا دیتے ہیں کہ محاورے کے ساتھ معاشرے کا تہذیبی اور سماجی منظر نامہ اپنی تمام تر جزیات کو ساتھ مل جاتا ہے۔[5] ''

د پښتو د محاورې په لړ کښې پروفېسر داور خان داؤد لیکي :

'' لکه د نورو ژبو په شان پښتو ادب هم د محاورو نه ډک دے ـ په پښتو شعر و شاعرۍ او په خوصي توګه په ټپو کښې بې شمېره محاورې استعمال شوي دي ـ محاورې ټپې د فصاحت او بلاغت ښکلي نمونې ګرځولي دي او په کښې ئې هغه واړه خوبۍ پېدا کړي دي کومې چې د یو فصیح او بلیغ کلام دپاره ضروري وي ـ مثلاً :

یاري د زور خبره نه ده
اشنا ته وایه چې خولۀ سمه خوزوینه[6]

څنګه چې د پښتو ژبې په وېنا کښې د محاورې استعمال برمحل او د موقعې په مناسبت سره کېږي داسې زمونږ په تحریر کښې هم د محاورې استعمال په پرېمانه توګه کېږي ـ زمونږ ډرامې ، افسانې او نور داسې تخلیقي او تحقیقي منثور اثار د محاورې نه ډک پراتهٔ دي چې که یو خوا د لیکونکي مقصد او مدعا ترسره کوي نو بل خوا د پښتو محاورې لویه پنګه هم محفوظ کوي ـ په دې لړ کښې د زیتون بانو افسانې چې د یوې زنانه لیکوالې له خوا تخلیق شوي دي ـ د پښتو سوچه محاورې په کښې په لوے تعداد کښې محفوظ دي ـ دلته مونږ د زیتون بانو د افسانوي مجموعې ''ژوندي غمونه'' په لمن کښې د راغونډو شوو محاورو جاج اخلو ـ

مونږ چې د زیتون بانو د افسانو په کوم اړخ هم خبَره کوو نو دا خبره رامخې ته کېږي چې هغوي د یوې زنانه په حېث چې څنګه د یو معاشرتي ژوند د نزدې نه مشاهده کړې ده او د خپل چاپېرچل تصویر ئې وړاندې کړے دے هم دغسې ئې د ژبې په حواله هم خپله سوچه روزمره محاوره او متلونه په خپلو افسانو کښې ځاے په ځاے راوړې دي ـ د خپل کورني او اولسي ژوند په لړ کښې چې کومه سوچه او سپېځلې ژبه استعمالېږي ـ د زیتون بانو په افسانو کښې هم دغه شان شوي دي ـ لکه د ژوندي غمونه وړومبۍ افسانه ''د خاورو ځلے'' چې مونږه اولولو نو د افسانې نوم چې څومره د سوچه ژبې غمازي کوي داسې په کښې د محاورو استعمال هم بامعنٰی او با مقصده شوے دے ـ

لکه چې وائي :

'' زما د ماما ځوے ډېر ښهٔ وهٔ ـ ډېر نېک هلک وهٔ ـ چرې ئې د چا ملاسته ګډه هم نهٔ وه پاڅولې[7]ـ''

د افسانې په دې برخه کښې ملاسته ګډه پاڅول ( په ځینې علاقو کښې ملاسته غوا محاوره ده ) محاوره ده چې مقصد ئې دے چاته تکلیف نهٔ رسول یا ضرر نه رسول ـ هم دغسې په دې افسانه

کښي بل ځاے ليکي :

" چې اوس د وخت په مېچن دل شوې دے او د غر هومره وجود ئې لکه د اووړې د ګټ ويلې شوے[8]۔"

په ذکر شوې حواله کښې دوه محاورې زمونږ مخې ته راځي ۔ يو دا " په مېچنه دل کېدل" او لکه د "واوړې د ګټ ويلې کېدل" په دې دواړه محاورو کښې چې حقيقي الفاظ ئې په خپلو کښې مختلف دي ولې مجازي معنٰى ئې نزدې نزدې يو شان ده ۔ چې مطلب ئې دے " وار تېرېدل ، وخت تېرېدل ، ځواني تېرېدل ۔

داسې د "ژوندي غمونه " په دوېمه افسانه " د سولۍ په سر" کښې هم د محاورو استعمال شوے دے ۔

"وخت په پښو سټرګو تېرېدو" وختونه اوړېدل ، نيتونه بدلېدل او رضيه چې د لسم تيارى کوولې -------[9]

په دې پيرګراف کښې

- په پښو سټرګو تېرېدو
- وختونه اوړېدل
- نيتونه بدلېدل

دلته وړومبۍ محاوره دا معنٰى لرې چې بې پروا يا لا پروا تېرېدل ۔ چې په چا ئې څۀ غم غرض نۀ وي ۔

په دوېمه محاوره کښې دا مطلب اغستے شوے دے چې وختونه تېر شي ۔ نو دلته د وخت نه مطلب يو ساعت يا لمحه نه ده بلکې د لمحو يا د ساعتونو يا د ورځو يا د کالونو مجموعه ده ۔

په درېمه محاوره کښې نيت بدلېدل په دې معنٰى کښې راغلې دې چې د وخت تېرېدو سره د انسان په اراده کښې کومې تبديلۍ او بدلونونه مخې ته راځي ۔ هم داسې په دغه افسانه کښې

"د پوله پټې په خرڅولو راپېښې وو ------ [10]"

" هغوي به د خانې په هوا پوکل[11]"

" هو هغوي ځان د وخته په مرګ شمېرلے وۀ ۔ د شاهد نيت ئې په ډاګه کړو[12]۔"

"او دغسې رضيه د ترۀ د کوره دوه پښې اووته[13]۔"

- د پولو پټې په خرڅولو را اېښودل ۔
- په هوا پوکل
- په مرګ شمېرل
- نيت په ډاګه کول ۔
- دوه لاسه دوه پښې وتل

دلته وړومبۍ محاوره دا معنٰى لرې چې د زمکو او پټو په بې ضرورته خرڅول ۔

په "هوا پوکل" محاوره دا مطلب لرې چې بې ځايه خرچ کول ۔

په "مرګ شمېرل" محاوره په دې مفهوم کښې ادا کېږي چې انسان د ژوند د هلو ځلو نه يو طرف ته شي او په خپل ژوند کښې ورته د ژوند د تېرېدو څۀ اثار نه ښکاري ۔

"نيت په ډاګه کول" دا مطلب لري چې د چا ارادې ښکاره کول يا په ډاګه کول ۔

هم په دغه لړ کښې ۔

"دو لاسه دو پښې " محاوره دا معنٰى لرې انسان د ځان سره هېڅ هم نۀ وينې ۔ هم داسې په ذکر

شوي افسانه کښې ـ
”د خپلوۍ هم دغه اووم مزے اووم اوشلېدو [14] “
”رضيه د خپل ماضي سره ټولې خپلولۍ اوشلولې[15]ـ“
او ”هغه د انتقام په لمبو کښې لوغړنو لړګو ته پوکې ورکوې[16]ـ“
په پورته ذکر شوو حوالو کښې مزے شلېدل ، خپلوۍ شلېدل ، د رشتې او تعلق د ماتېدو معنیٰ لري او لوغړنو لړګو ته پوکې ورکول پوکار سر دوباره کول مطلب دے ـ
د مذکوره افسانوي مجموعې په درېمه افسانه ”مات لاس“ کښې هم څۀ محاورې مخې ته راغلې دي ـ
”خو هغه زبيده خو به اوس خاورې ايرې شوې وي[17]ـ“
”زبيده به شوندې د غاښونو تر مېنځه چيچلې نيولې وې[18]ـ“
ددې وېنا سره د زبېدې غريو راګډ شو خو هغې شوندې اوچيچلې او اوښکې اونۀ بيولې[19]ـ
په ذکر شوو حوالو کښې ”خاورې ايرې کېدل “ ”شوندې چيچل “ ، ”غريو راډکېدل“ او ”اوښکې بيول‘ محاورې بالترتيب د ”هېڅ بې هېڅه ضائع کېدو“ ، د ”غصې اظهار“، د ”خفګان د ښرګندولو“ د ”د غم ښکاره کولو “ په معنو کښې مستعمل دي ـ
داسې په دې افسانه کښې دا محاورې ”خاورې اوبو اوړل “ ، ”د ښرۍ او شال پيوند کېدل“ ”د غرض پردې اچول “ ”لاس غاړې له تلل“ بالترتيب په دې معنو کښې استعمال شوې ـ ”محنت ضائع کېدل ـ “
”طبقاتي کشمکش ښرګندونه“
” صرف د خپل غرض (مطلب ) کار کول “
”مطلب د انسان خپل ځان ته رجوع کېدل“
داسې ” زنځيرونه [20] نومې افسانه کښې هم
(جامې تار تار کېدل)
” شپه او ورځ په ځان يو کول “ محاورې استعمال شوې دي چې د ”بې عزته کېدو“ او ”د محنت کولو“ په معنو کښې راغلې دي ـ
” د وېنو خوړلے دېوال[21] افسانه کښې
(نيمګړې نيمه خوا پاتې کېدل )
(ذمه وارې په سر کېښودل )
”بې اسرې او بې خوګه پاتې کېدل “
او ”د بوجهـ او ذمه وارو قبلولو په معنو کښې استعمال شوې دي ـ
دغسې په ”ارمان [22]“ افسانه کښې
”وينې سپينېدل“
د مينې محبت او رشتو د تقدس د ختمېدو په معنیٰ کښې استعمال شوې محاوره ده ـ
داسې ددې مجموعې په نمائنده افسانه ”ژوندې غمونه[23]“ کښې هم يو شمېر محاورې مخې ته راغلې دي لکه
”د پښتو په لاره روانېدل“
”پښتو پوره کول“
” په ځوانه ځوانۍ کښې لاس وينځل“
”جامو نه غوټې وهل“

’’ټېر یخېدل ‘‘
چې بالترتیب د پښتونولۍ د اقدارو خیال ساتلو تمیز کولو ، خپله خبره سرته رسولو ، د څۀ خبرو نه زړۀ صبرولو یا په شاکېدلو ، غریبي او بې وسي څرګندېدلو ، ارمان پوره کېدلو ، په معنو کښې استعمال شوي دي ۔
په مذکوره مجموعه کښې ’’زۀ کنده نه یم[24]‘‘نومې افسانه کښې هم دغسې ځو محاورې د خپلې معنې او مفهوم له مخه په ښۀ توګه استعمال شوي دي ۔ لکه
(په روڼ تندي بخښل)
’’ چا ته په خندا خوشحالی څۀ ویریا ورکول ‘‘
(سر ورکول )
’’ قرباني ورکول‘‘
(سترګې ډکې ډکې کېدل)
’’د خفګان او غم څرګندونه کول‘‘ ۔
’’سوغات‘‘[25] افسانه هم په دې مجموعه کښې یوه شامله افسانه ده چې په لمن کښې ئې د ځو محاورو ملغلرې راټولې کړې دي ۔ لکه
(خوشحالي نه نصیب کېدل)
(په زړۀ ورننباسل)
( زړۀ اوبۀ ځکل)
( څړیکه محسوسول)
(جړړې خوړېدل ) ذکر شوې محاورې
’’ارمان نه پوره کېدل ‘‘
’’ډیره زیاته مینه کول‘‘
’’یقین او اعتماد پیدا کېدل‘‘
’’تکلیف رسېدل ‘‘
’’مضبوطېدل‘‘ معنٰی او مفهوم لري ۔
دغسې د ’’شوې پانه‘‘[26] افسانه کښې هم ’’سرے نه ښکارېدل ‘‘ او ’’ د خبرو بوسخکی راسپړدل‘‘ ۔ محاورې ’’ د لاپرواهۍ او د ډېرو خبرو کولو ‘‘ په معنو کښې استعمال شوي دي چې په ذکر شوې افسانه کښې ئې د موقعې مطابق د خوند رنګ سره معنٰی او مفهوم په ښۀ ډول څرګند کړې دي ۔
داسې ددې مجموعې په یوه بله شهره افاق افسانه ’’کڅے‘‘[27] کښې
(په سرو کښې شمېرل)
(په وهلو د بوسو سخے جوړول)
(کرل ربېل)
(د شکونو په بوختو کښې بوختکېدل )
( د مار سوړه ټپول او مار وژل)
محاورې
’’چاله د هغه مقام ورکول ‘‘
’’ډېر زیات وهل ټکول کول ‘‘
’’سوچونه او فکرونه کول ‘‘
’’په شکونو کښې ژوند کول ‘‘

’’د خطرې هره لار بندول ‘‘
لکه په اردو کښې وائي :
’’ نہ رہے بانس نہ بجے بانسری ‘‘
ددې مجموعې په اخري افسانه ’’چیلمچي‘‘[28] ده ۔
چیلمچي چې د جنسي افسانې په حواله شهرت لري ۔ هم په خپله لمن کښې د ښو محاورو معنوي رنګونه راټول کړي دي ۔ لکه
(په ښوملو کښې کچ ورکول)
’’ډېره زیاته مینه ورکول‘‘
( خواري اوبو اوړل)
’’ محنت ضائع کېدل‘‘
’’ د ړوند له خدایه دوه سترګې غوښتل ‘‘
’’انتهائي حاجت سر کول ‘‘
ددې محاورو په رڼا کښې کۀ اوکتلے شي نو د خدائے بخښلې زیتون بانو د خپلې ژبې په محاوره او د هغې په برمحل استعمال پوره پوره لاس بر وۀ ۔ او دغسې دا خبره هم جوته ده چې زیتون بانو بي بي په خپلو افسانو کښې د معنٰی او مفهوم د خوندونو پیدا کولو او لوستونکي د خپلې خبرې تل ته د رسولو سربېره په خپلو افسانو کښې د پښتو سوچه محاورې په ډېره ښۀ طریقه محفوظ کړې دي ۔

# حواله جات


1 میا بهادر شاه ظفر کاکاخېل ، ظفراللغات ، یونیو رسټي بک ایجنسي پېښور ، ۱۹۶۷ء مخ۱۲٤۳

2 پیر غلام دستگیر نامی، عربی فارسی الفاظ کی شناخت اور اردو میں ان کا استعمال کوائف، ص744

3 عبداللہ جان عابد، پشتو محاورہ، تہذیبی ولسانی مطالعہ، پشتو اکیڈمی پشاور یونیورسٹی، جدون پرنٹنگ پریس پشاور، 2009ء، ص25

4 پروفیسر ڈاکٹر محمد امین، دیباچہ، مشمولہ محاورات اتش، مرتب ڈاکٹر عبدالغفار کوکب، بیکن بکس لاہور، 2005ء، ص16

5 عبداللہ جان عابد، پشتو محاورہ، تہذیبی ولسانی مطالعہ،، ص ۲٦۷

6 پروفیسر داور خان داؤد ، پښتو تپه ، یونیورسټي بک ایجنسي پېښور ښار، ۲۰۲۱ء، مخ۱۵۳

7 زېتون بانو ، ژوندي غمونه ، از تاج سعید ، پېښور شاهین پریس پېښور، ۱۹۷۹ء، مخ ۹

8 همدغه اثر ، مخ ۸

9 همدغه اثر ، مخ ۲۲

10 همدغه اثر ، مخ ۲۳

11 همدغه اثر ، مخ ۲۳

12 همدغه اثر ، مخ ۲۳

13 همدغه اثر ، مخ ۲۳

14 همدغه اثر ، مخ ۲٤

15 همدغه اثر ، مخ ۲٤

16 همدغه اثر ، مخ ۲٦

17 همدغه اثر ، مخ ۲۹

18 همدغه اثر ، مخ ۳۲

19 همدغه اثر ، مخ ۳٤

20 همدغه اثر ، مخ ٤٦

21 همدغه اثر ، مخ ۵٦

22 همدغه اثر ، مخ ۷۰

23 همدغه اثر ، مخ ۷٦

24 همدغه اثر ، مخ ۹۲

25 همدغه اثر ، مخ ۹۷

26 همدغه اثر ، مخ ۱۱۵

27 همدغه اثر ، مخ ۱۳۲

28 همدغه اثر ، مخ ۱۵٤